مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۲۵

# ښځه او زده کړه،

## تګ د اسمان دی

د زړه په کور مې، هجوم راوړی، نن بیا جانان دی
څنګه یې زړه دی، څنګه دی دی، څنګه انسان دی

پښتانه مړه دي، پښتانه غرق دي، پښتانه ورک دي
څنګه وايي، پښتون يو دی، که د اټک او بولان دی

تماشه ختمه، ننداره ختمه، هر څه ختم چې يار لاړو
څنګه ژر لاړو، څنګه کاروان دی، څنګه ساروان دی

دغه يې چيغه، دا يې غيرت دی، دا يې همت شو
د کورګي مال دی، ښځه او زده کړه، تګ د اسمان دی

پلار مزدور دی، زوی هم مزدور دی، نسل مزدور دی
که تعليم نه کړي، دا يې حالت، چې پرې روان دی

که چيرته درومي، غږ به کوي يار، چې ما پرېږدئ
سمسور که څه دی، ستا برکت دی، په تا ودان دی

اکتوبر ۲۰۱۶/ جلالکوټ

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ